# د هغو خلکو کورونو ته مه ننوځئ چې پر ځانونو يې ظلم کړی دی، مګر د ژړا په حال کې

له عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی وايي چې: موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د الْحِجْر سيمې تر څنګ تېر شو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم موږ ته وفرمايل: "د هغو خلکو کورونو ته مه ننوځئ چې پر ځانونو يې ظلم کړی دی، مګر د ژړا په حال کې؛ که نه نو تاسو به هم د دوی په څېر برخليک سره مخ شئ" بيا يې خپله (سپرلۍ) چټکه کړه، تر دې چې له سيمې تېر شو.
[صحيح] [متفق علیه دی]

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ثموديانو پر کورونو تېرېده نو د هغو خلکو کورونو ته يې له ننوتلو يا ورتګ څخه منع وکړه چې پر ځان يې ظلم کړی و، مګر دا چې داخلېدونکی کس هلته وژاړي او له هغوی څخه عبرت واخلي؛ له دې وېرې چې هسې نه هغه څه ور وروسېږي چې هغوی ته رسيدلي و، بيا يې خپلې سپرلۍ باندې چغه کړه، نو هغه تېزه شوه، تر دې چې له هغه ځايه تېر شو.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66294

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee